محمد هارون خپل شعشعي


۱۳ دسمبر ۲۰۱۱

## « دوهم بون یا بون/ بُن دوم » د ګرامر له پلوه

لس کاله کیږي، چي زموږهیوادوال د « بون کنفرانس » ناولی او کرغېړن نوم اروي .په دي نامه لومړنی پټه او مرموزه غونډه د ۲۰۰۱ع کال د نومبر پر نه ویشتمه(۲۹) نېټه د جرمني په پخواني مرکز« بون » کي پيل؛ او تر څو ورځني ځنډ وروسته د ډیسمبر پر پينځمه پای ته ورسېده . امريکايي استعمارګرانو او مغرضو ګاونډيانو د همدې شيطاني غونډي له لاري زموږ په وران او جنګ ځپلي هيواد کي د جنګي جنايتکارانو، جاسوسانو او وطن پلورونکو ډلو ټپلو و خونړی او ظالمانه واکمنی ته لار پرانيستله . دا چي په تېرو لسو کالو کي زموږ پر ويرژلي او کړېدلي اولس څه شپې او ورځي تېري سوي؛ او لا تر اوسه هم تېريږي، زموږ ټولو هيوادوالو ته لمر غونډي روښانه دي . هوايي بمبارۍ، د شپې تلاښۍ، ويني، اوښکي، ورانۍ، په خپلو او پردو محبسو کي ډول ډول ځوروَني او توهينونه، فرهنګي يرغلونه، لوږه، بې کوري، بېعدالتي، فساد او بېلابېلي سياسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي ناخوالي ګرده زموږ ربړېدلو او مظلومو هيوادوالو ته د بهرني اشغال، مزدوري واکمنی او لومړي بون کنفرانس سوغاتونه دي .

څو ورځي مخکي د ۲۰۱۱ع کال د ډیسمبر پر پينځمه، تر لس کلن ځنډ وروسته، د بون دوهم کنفرانس جوړ سو، چي په هغه کي يرغلګرو استعماري دولتو په افغانستان کي له ټپل سوي رژيم سره تر۲۰۲۴ع کال پوري د خپلو پوځي او اقتصادي مرستو « ژمنه » اعلان کړه .

زموږ ويښ او سترګه ور هيوادوال پوهيږي، چي امريکايي او ايتلافي اشغالګران په افغانستان، سيمه او نړۍ کي د خپلو سياسي، اقتصادي او ستراتيژيکو ګټو د تحقق دپاره زموږ په هيواد کي د خپلو لښکرو همېشني حضور ته سخته اړيتا لري . که څه هم د کابل له مزدور رژيم سره د امريکا او نورو ايتلافي اشغالګرو د عسکري او اقتصادی مرستو دوام په واقعيت کي زموږ د خپلواک هيواد د دايمي اشغال په مقصد د نسبتاً پاسته او غوولونکي عبارت کارول دي؛ خوپوښتنه دا ده، هغه مزدور، فاسد او بې کفايته حکومت، چي په تېرو لسو کالو کي د زرګونو پوځيانو د قرباني او ميلياردو ډالرو د خاوري کولوپه بيه د يوسل و پينځوس زره (۱۵۰/۰۰۰) منظم پوځ او يو لک(۱۰۰/۰۰۰) بې يونيفورمه ځواک( په اصطلاح امنيتي، استخباراتي او لوژستيکي کمپنيو) په زور ټينګ نسو،

تر ۲۰۱۴ع کال وروسته به څنګه ټینګېږي؟! مګر چا لیدلي دي، چي د ځکندن پر حال ناروغ لس کاله د ماشین په مرسته ژوندی وساتل سي؟! لکه څنګه چي لایف سپورټ ماشین لس کاله چا ته ژوند نسي ورکولای، د کابل مزدور رژیم هم د پردو لښکرو په زور تل ترتله خپل ننګین او شرمناک عمر نسي اوږدولای . اشغالګران او وطن پلورونکي مزدوران باید ښه سر خلاص کي، چي خپلواک، زړور او ویاړلي افغانان تر قیامته هم اشغالګرو او تپل سوو واکمنانو ته نه تسلیمیږي!

په ننني لنډه لیکنه کي د بون د لومړي او دوهم کنفرانس پر سیاسي اړخو خبري نه کوو؛ ځکه هغه څه چي لمر غوندي روښانه دي، شنلو او سپړلو ته اړتیا نه لري . په دې بحث کي د ګرامر له پلوه پر هغه ترکیب رڼېږو، چي څو ورځي مخکي د بون د دوهم منحوس کنفرانس د جوړېدو په درشل کي میدان ته راووتئ؛ اونن دونه عام سوئ دئ، چي پرتازه کارو ژورنالیستانو او لیکوالو سربېره د ځینو پخو اوپیاوړو لیکوالو په سیاسي - حقوقي لیکنو کي هم لیدل کیږي . دا نادوده ترکیب د« دوهم بون » یا « بون/ بُن دوم »عبارت دئ، چي په دې لنډه مقاله کي( کي یي) پر ځینو اړخو رڼا اچوو.

زموږ درانه لیکوال ښه پوهیږي، چي په پښتو کي عدد( اصلي یا ترتیبي/ توصیفي) تل تر معدود مخکي راځي؛ لکه په دغو عبارتوکي :

۱- یوه غونډه

۲- دوې غونډې او داسي نور .

په لومړي او دوهم عبارت کي « یوه / دوې » ته د ګرامر په اصطلاح عدد او« غونډه / غونډې » ته معدود وایي . په دې دواړو عبارتوکي عدد اصلي یا اساسي(**cardinal**) بنه لري؛ لکه یو/ یک، دوه/ دو، درې/ سه او داسي نور . په ځینو حالاتوکي عدد ترتیبي یا وصفي(**ordinal**) بنه لري؛ لکه اول (لومړی)/ یکم ( اول، نخست)، دوهم/ دوم، دریم/ سوم، څلرم (څلورم)/ چهارم او داسي نور:

اوله (لومړی) غونډه

دوهمه غونډه

په پښتو کي هیڅوک دا عبارتونه په سرچپه یا معکوس ډول نه وایي :

غونډه یوه، غونډه دوې، غونډه اوله، غونډه دوهمه او داسي نور .

په پارسي کي عدد کله کله تر معدود دمخه او کله کله هم ترهغه وروسته راځي لکه :

یک درخت، دو سیب، سه قلم، یک جلسه، یک کنفرانس او داسي نور.

په مخکنیو عبارتو کي عدد( یک، دو، سه) تر معدود( درخت، سیب، قلم، جلسه او کنفرانس) مخکي راغلئ دئ . « اولین/ نخستین جلسه »، « دومین کنفرانس »، « سومین فیستیوال » او داسي نور هم له هغوعبارتو څخه دي، چي ترتیبي یا وصفي عدد( اولین، دومین او سومین) یې تر معدود دمخه راغلئ دئ . د پورنیو عبارتو پر عکس، په ځینو نورو مثالو کي عدد تر معدود وروسته راځي لکه :

جلسهء اول، کنفرانس دوم، جشن سوم، سال پنجم او داسي نور. په پارسي کي هیڅوک دا عبارتونه داسي نه وایي :

اول جلسه ، دوم کنفرانس ، سوم جشن ، پنجم سال او داسي نور .

تر دې ځایه مو په پښتو او پارسي کي د عدد او معدود مانا او ځای ځایګی و پیژندئ، اوس له همدې عدد او معدود سره بله تکمیلي یا توصیفي کلیمه هم یو ځای کو؛ او ګورو، چي سره له هغه هم د عدد او معدود مخکنی جوړښت او ترتیب نه خرابیږي؛ مثلاً په پښتو کي وایي :

اوله/ لومړۍ کتنه

په پاړسي کي وايي :

ملاقات اول / دیدار اول/ دید وبازدید اول . ایرانیان د اول پر ځای زیاتره د« نخست » ټکی استعمالیي .

که چیري له دې عبارتو سره بله کلیمه ( اسم مکان) هم یو ځای کو، بیا نو پورتني عبارتونه دا بڼه اخلي :

د کابل لومړۍ کتنه

ملاقات اول کابل

که چیري دا کتني څو واره پېښي سوي يي(وي) بیا نو وایو:

د کابل لومړۍ کتنه

د کابل دوهمه کتنه

ملاقات اول کابل

ملاقات دوم کابل

له دې عبارتوسره نور صفتونه هم زیاتېدای سي؛ د مثال په توګه :

د کابل لومړۍ په زړه پوري کتنه

د کابل دوهمه اوږده او مفصله کتنه

ملاقات دلچسپ اول کابل

ملاقات طویل و مفصل دوم کابل

په پښتو کي هیڅکله داسي نسو ویلای :

کتنه د لومړي کابل

کتنه د دوهم کابل

په همدې ډول په پاړسي کي هم هیڅکله داسي نسو ویلای :

ملاقات کابل اول

ملاقات کابل دوم

ځکه کابل فقط یو کابل دئ؛ اول، دوهم او دریم نه لري . له بله پلوه موږ ټول پوهېږو، چي لومړۍ او دوهمه/ اول و دوم په حقیقت کي د کتني یا ملاقات صفتونه دي، نه د کابل، چي د ځای نوم دئ .

البته، د عدد او معدود تر منځ د وصفي یا تکلیمي ټکو کارول، په ګرامر کي خورا لوی او پراخ بحث دئ، چي په دې لنډه مقاله کي ګرسره حق نسي ادا کېدای . له دې کبله په دې بحث کي د نورو توضیحاتو له وړاندي کولو ډډه کوو.

د پورتني استدلال له مخي په پښتو کي د « دوهم بون کنفرانس » یا په پاړسي کي د « کنفرانس بون/ بُن دوم » عبارت د دغو ژبو د ګرامر له پلوه سم او معقول نه دئ؛ ځکه د اول او دوهم بون په نامه اصلاً هیڅ شی نسته . « بون » یوازي یو ښار دئ . اول او دوهم قطعاً نه لري . په پورته عبارتو کي د اول او دوهم ټکي (عدد) له خپل معدود سره نه شلېدونکی اړېکی لري، چي هغه د «کنفرانس » ټکی دئ . زه خو دې خبري ته هم ډېر اریان یم، چي زموږ ژورنالیستان او لیکوال ولي په پاړسي کي د « بون » اروپایي کلیمه د « بن » یا « بُن » په بڼه لیکي؟ « بون » خو عربي کلیمه نه ده، چي څوک يي د عربي اِعراب په مرسته ولیکي او و وایي . په پاړسي کي څه اړتیا ده، چي اورپایي کلیمي د زوَر، زېر، پېښ او داسي نورو عربي اِعرابو په کومک ولوستل سي؟

خیر، تر دي لنډي تبصري وروسته بیرته راګرځو خپل اصلي بحث ته . لکه څنګه چي مالومیږي، د« دوهم بون »
یا« بون دوم » عبارت له پردو( اورواپايي) ژبو څخه پاړسي او پښتو ته را ننوتلئ دئ؛ خو په خواشینی سره زموږ
د پښتو او پاړسي ژباړونکو پام دي واقعیت ته نه دئ اوښتئ، چي د هري پردی ژبي ګرامر له پښتو او پاړسي
سره سر نه خوري . په انګریزي کي د بون د دوهم کنفرانس یا « کنفرانس دوم بون » دپاره
(**The 2nd Bonn conference**) یا په نسبتاً لنډه بڼه د (**The second Bonn conference**)
عبارتونه کاریږي . په دي انګریزي عبارت کي که څه هم د سېکنډ(دوهم) ټکی له « بون » سره څنګ پر څنګ
راغلئ دئ، خو په واقعیت کي له خپل معدود سره ارتباط لري ، چي هغه د « کنفرانس » ټکی دئ . « بون » په
دي ترکیب کي لکه څنګه چي وړاندي هم اشاره وسوه، د ځای نوم یا اسم مکان دئ، چي عدد او معدود ته تکمیلي
او توصیفي بڼه ورکیي(ورکوي). دلته د یو بل مثال یادونه بې ګټي نه ده، چي له همدې عبارت سره ډېر ورته والی
لري . په انګریزي کي وایي :

**The 2nd largest Afghan city**

یا وایي :

**The 2nd largest city of Afghanistan**

یا وایي :

**Afghanistan's 2nd largest city**

په پښتو یا پاړسي کي د دي عبارت مانا داسي ده :

د افغانستان دوهم لوی ښار

دومین شهر بزرګ افغانستان

په دي عبارتوکي افغانستان د ځای نوم ( اسم مکان) دئ . دوهم یا دومین « عدد »، ښار یا شهر« معدود» او «
لوی یا بزرګ » د ښار صفت دئ . په بله ژبه لوی او دوهم دواړه د موصوف ( ښار) صفتونه دي، چي د «
افغانستان » له کلیمي سره هیڅ  مانوي( معنوي) تړاو نه لري . د همدې دلیل له مخي ځوک دا عبارتونه داسي
نسي ویلای :

لوی ښار د دوهم افغانستان

شهر بزرګ افغانستان دوم  یا شهر بزرګ دومین افغانستان

ځکه د « دوهم افغانستان »،« افغانستان دوم » یا « دومین افغانستان » په نامه هیڅ شی وجود نه لري . « د دوهم
بون کنفرانس » یا « کنفرانس بون دوم » هم کټ مټ همدا بڼه لري . دا ډول عبارت جوړول نه د مانا( معنی) په
لحاظ سم دي؛ او نه هم د پښتو او پاړسي له ګرامري جوړښت سره سمون لري .

هوپه اروپايي ژبو له هغو څخه په انګریزي کـي ځینو ژورنالیستانو او لیکــوالو د (**2nd** یا (**Bonn II**)
(**Bonn**عبارتونه هم استعمال کړي دي . انګریزي لیکوال او ژورنالیستان هم ددې عبارت په ناسموالي او غلطی
بڼه پوهیږي؛ ځکه دوهم بون/ بون دوم، دوهم کابل/ کابل دوم، دوهم واشینګټن/ واشینګتن دوم او داسي نور مفاهیم
مادي وجود نه لري؛په دي خاطر نو له عقل او منطق سره اړخ نه لګیي . داسي ښکاري، چي په انګریزي کي
د(**Bonn II**) یا (**2nd Bonn**) عبارت د لنډوالي یا اختصار په نیامت سوئ دئ؛ ځکه په انګریزي او نورو
اورپايي ژبوکي ټل د اوږدو عبارتو له کارولو څخه ډډه کیږي . په انګریزي کي له همدې سَوَبه زرګونه محلي،
ملي او بین المللي مخففات رواج کړي دي؛ د مثال په توګه فلو(**flu**)کلیمه په حقیقت کي د اینفلوینزا(**influenza**)

د کليمي منځنی برخه ده . لب (**lab**) کليمه د لنډوالي دپاره په طبابت کي د لابراتور(**laboratory**) پر ځای استعماليږي . ټي وي يا ټيلي (**TV/ telly**) د تلوېزون/ تلوېزيون (**television**)، فون (**phone**) د تليفون/ ټيليفون(**telephone**)، پلېن(**plane**) د الوتکي يا اېروپلېن (**aeroplane**)، بس(**bus**) د امنيبس(**omnibus**) پر ځای عام او پراخ استعمال لري . د داسي مخففاتو شمېر زرګونو ته رسېږي . البته، پر دغه راز لنډوَنو يا اختصاراتو سربېره د الفبيتيزم ( **I.M.F, E.U., B.B.C, W.H.O., I.L.O.**) او اکرينمو ( **NATO, SEATO, UNO, UNESCO, ECO**)په بڼه هم خورا ډېر مخففات باب دي .

دا خبره دقيقه ده، چي خلک تل د اسانی او سادګی د اصل له مخي د اوږدو او بې خونده عبارتو پر ځای لنډ ټکی يا لنډکی عبارت غوره ګڼي . د عقل او منطق تقاضا هم دا ده . د خلکو له خوا لنډ ټکی يا لنډکی عبارت وروسته مطبوعاتو او حتا علمي اثارو ته هم لار پرانيزي؛ او سَوْکَه سَوْکَه د ژبي د لغوي او مانوي زېرمي نه بېلېدونکي برخه ګرځي . که څوک په اوروپا کي د دوهمي نړی والی جګړي د جنګي مجرمينو محاکمه په لنډ ډول د نورمبرګ محاکمي (**Nuremberg Trials**) په نامه ياده کړي، دا نه يوازي بده خبره نه ده، بلکي ډېر په زړه پوري او معقول کار هم دئ؛ ځکه دنورمبرګ محاکمه د يوه سياسي او حقوقي اصطلاح په توګه په دوهمه نړیَ واله جګړه کي د نازيانو د جنګي جنايتونو داستان ته ګوته نيسي . واټرګېټ(**Watergate**)، ايران ګېټ (**Irangate**)، ميموګېټ (**Memogate**) او داسي نور هم ټول داسي ترکيبونه دي، چي بې ګرامري قواعدو او ژبنيو اصولو، په خپل لنډوالي او کوچني والي سره لويي او اوږدي کيسي بيانيي .

وروستی نتيجه دا ده، که چيري عدد، معدود او وصفي ټکي ګرده يو ځای، په يوه عبارت کي استعمالوو، بيا نو ښه دا ده، چي د هغو ګرامري جوړښت او ترتيب ته هم په کلکه پام وکو. ياني د « دوهم بون کنفرانس » يا « کنفرانس بون دوم » عبارتونه هيڅکله ونه وليکو؛ ځکه دا ډول عبارتونه پر مانوي کمزوری او نيمګړتيا سربېره ګرامري جوړښت ته لوی زيان رسيي . که چيري د انګرېزي يا نورو اوروپايي ژبو په څېر د لنډون يا اختصار په خاطر عدد، معدود او وصفي/ تکميلي ټکي ټول په يوه عبارت کي نه راوړو، بيا نود« دوهم بون » يا « بون دوم » عبارتونه يولوی او پراخ مفهوم ته د اشاري په مقصد بې ځايه نه دي .